پرمختیا
اوونیزه
د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت
هیله بخښونکې خبرونه!
۱۲۶ مه ګڼه • پنجشنبه • دوری ۱٤ مه • د ۱۳۹۹ کال

# په کاپیسا کې د ۵۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۸۰ متره پل بشپړ شو



۳

## په سرپل ولایت کې د ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د ښاري بریښنا د یوې شبکې د تمدید کار بشپړ شو



٤

## په لغمان کې څه باندې د۷ ملیونه او ۱۰ زره افغانیو په ارزښت د یوه محافظوي دیوال د جوړولو کار روان دی



٦

## په پنجشیر ولایت کې د ۲۱ میلیونه افغانیو په ارزښت ٦.۲۲ کیلومتره سړک جوړ شو



٤

## په ننګرهار کې د ٤٩،٥ میلونه افغانیو په ارزښت د یوې پروژې هوکړه لیک لاسلیک شو



٦



## د فاریاب په ٦ ولسوالیو کې د کرونا پر اړه د پوهاوي کمپاین تر سره شو

۱۱/ وری/ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د فاریاب د میمنې، اندخوی، قرغان، خان چهار باغ، قرمقول او بلچراغ ولسوالیو وسیدونکو ته د کرونا رنځ د مخنیوي پر اړه پوهاوی ورکړل شو.

ددې کمپاین په ترځ کې د ولسي تړون پروګرام کارکوونکو د عامې روغتیا بنسټیز پیغامونه چې د کرونا د وقایې په اړه وو د شورا د ۹۵ کلسترونو له خوا په جلا، جلا ډول ښځو او نارینه وو ته ورسول شول، له هغوی وغوښتل شول چې ملا امامان تر لمونځونو مخکې او وروسته دغه پیغامونه د خپلو شوراګانو کلسترونو ته ورسوي چې د کرونا کویډ- ۱۹ مخه ونیول شي.

## په تخار کې د ۱.۷۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱.۷ کیلو متره سړک د ساتنې او مراقبت کار روان دی

۱۰/ وری/ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د ۱.۷ کیلومتره سړک او اړوند د ۷۸۸ متره استنادي دیوال د ساتنې او پاملرنې چارې د تخار ولایت د مرکز تالقان په عرب های پایان باغ ذخیره کلي کې روانې او ۸۰ سلنه مخکې تللې دي.

ددې پروژې په ترځ کې ۲۷۹۲ تنو ولسي کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې وه او په بشپړتیا سره به یې عربها، مهاجر قشلاق، نو اباد شاه تالقان، نو اباد جدید او بهارک ولسوالی له مرکز تالقان سره وتړل شي.



## په غزني کې د روغتیایي مرکزونو د سنبالښت په موخه د نا خوراکي توکیو مرسته وشوه

۱۱/ وری/ ۱۳۹۹

د غزني د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست له خوا د کویډ- ۱۹ کرونا د خپریدو له کبله د بیړني حالت د رامنځ ته کیدو په سبب د یاد ولایت له عامې روغتیا ریاست سره د ۸ ډوله ناخوراکي توکیو مرسته وشوه.

۲۵۰ عسکري کمپلې، ۱۰ کیږدۍ، ۳۰ پلاستیکي ترپالونه، ۵۰ پلاستیکي بوشکې، ۱۰۰ روغتیایي کیتونه، ۲۰ د مستو کاسې، شل کاشوغې، او شل پنجې د کرونا د تشخیص او درملنې د روغتیایي مرکزونو د سنبالښت په موخه د یاد ولایت د عامې روغتیا له ریاست سره مرسته وشوه.





## په ننګرهار کې د ۱.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوې پروژې هوکړه لیک لاسلیک شو

۱۳۹۹/ وری / ۱۰

د ننګرهار کلیو بیا رغونې رییس او د مومندرې ولسوالی د کمې ډکې کوز کلي شورا ترمنځ د ۱.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱۰ څاګانو د کیندلو یوهوکړه لیک لاسلیک شو.

ددې هوکړه لیک له مخې به د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي سیمو د اوبو رسولو او روغتیا ساتنې ملي پروګرام RU-WATSIP د مالیې وزارت له بودیجې څخه د ۱.۳ افغانیو په ارزښت ۱۰ څاګانې کیندل کیږي چې نږدې ۱۸۰ کورنیو ته به د څښاک پاکې اوبه برابرې کړي.

کمه ډکه د مومندرې ولسوالی لرې پرته سیمه ده چې اوسیدونکي یې د څښاک او بو د نشتوالي له ستونزې سره لاس ګریوان وو.

# په کاپیسا کې د ۵۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۸۰ متره پل بشپړ شو

۹/ وری/ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو د ملي پروګرام له لوري د کاپیسا ولایت د حصه اول کوهستان ولسوالی په نوله شکسته کلي کې د ۵۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۸۰ متره پل جوړ شو او ورسره پر ۱.۹۵ کیلو متره سړک باندې کریړ واچول شو.

ددې پل په جوړیدو سره د کاپیسا او د پروان ولایت د جبل السراج او سید خیلو ولسوالیو تر منځ واټن بیخي لنډ شو، سربیره پر دې به دا پل او سړک د زرګونوکلیوالو وګړو د اقتصادي پرمختګ په برخه کې هم ګټور پریوزي.



# په ننګرهار کې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه بیا رغول کیږي

۱۳۹۹/ حمل/ ۱۰ مه

د ننګرهار کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست کلیوالي سیمو ته د اوبو رسولو او روغتیا ساتنې ملي پروګرام RU-Watsip له لوري په دوربابا ولسوالی کې د اوبو رسولو د یوې شبکې په ترمیم سره نږدې ۳۰۰۰ کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابروي.

د اوبو رسولو دغه شبکه په ۲۰۰۱ کال کې د دآکار خیریه موسسې له لوري جوړه شوې چې د نږدې ۴۰۰۰ متره لرې فاصلې څخه یې د چینو اوبه د دوربابا ولسوالی یوشمیر کلیو ته رسولې خو د وخت په تیریدو سره ددې شبکې ډیرې برخې تخریب شوي چې اوس یو ځل بیا د کلیو پراختیا ریاست له لوري د مالیې وزارت له بودیجې څخه ۱.۸ میلیونه افغانیو په لګښت یې د چینې ساختمان ، دوه ذخیرې، یو د فشار ماتوونکی ساختمان او ۳۴٦٦ مترو په اوږدوالي سره د نوې پایپ اخیستل شامل دي چې ددې پروژې په تکمیلدو سره به نږدې ۳۰۰۰ کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شي.





## په سره رود ولسوالۍ کې ۳۰۰۰ بې وزله کورنیو سره د خوراکي توکیو دمرستو لړۍ پیل شوې ده

۱۰/ وری/ ۱۳۹۹

د ننګرهار کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست ترچتر لاندې د خوړو نړیوال پروګرام WFP په مرسته د FGA په تخنیکي همکارۍ په سره رود ولسوالۍ کې ۳۰۰۰ بې وزله کورنیو ته د خوراکي توکیو د مرستو ویشلو لړۍ پیل شوې ده .

پدې مرستو کې پنځوس کیلو ګرامه اوړه ، ۴،۵ لیتره غوړي اته کیلو ګرامه دال او مالګه شامل دي چې هرې کورنۍ ته به یاد مقدار مواد ددرې میاشتو لپاره ورکول کیږي.

د کلیو پراختیاریاست په همکارۍ په داسې حال کې کلیوالي سیمو کې ارمنو کورنیو ته خوراکي توکي ویشل کیږي چې په بازارونو کې دی لومړنیو خوراکي توکیو بیې د پخوا په پرتله لوړې شوې دي.

## په پنجشیر ولایت کې د ۲۱ میلیونه افغانیو په ارزښت ۶.۲۲ کیلومتره سړک جوړ شو

۱۳/ وری/ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو د ملي پروګرام له لوري د پنجشیر ولایت د حصه اول خنج ولسوالۍ په رخ کلي کې د ۲۱ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۶.۲۲ کیلو متره سړک جوړولو کار بشپړ شو او کریړ پرې واچول شو.

ددې سړک ۷۰۰ متره کانکریټي او پاتې یې کریړي دی په دې سړک سره رخ کلی د پنجشیر له عمومي سړک سره وتړل شو چې ورسره د سلګونو کلیوالو ترانسپورتي ستونزې هوارې شوې.



## په سرپل ولایت کې د ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د ښاري بریښنا د یوې شبکې د تمدید کار بشپړ شو

۱۲/ وری/ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له لوري د سرپل ولایت د مرکز په ازبکیه انګوټ کلي کې د ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د ښاري بریښنا د یوې شبکې د تمدید کار بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

دا شبکه د ۲۰ کیلو واټه بریښنا لپاره ۱۰ ستنې او ۲۶۰ متره مزی او د ۰.۴ کیلو واټه بریښنا لپاره ۴۱ ستنې او ۲۴۰۶ متره مزی او د ۲۵۰ او ۱۶۰ کیلو واټو په ظرفیت دوه ترانسفارمرونه لري.

ددې پروژې په ترځ کې د ماهرو او ناماهرو کارګرو لپاره ۵۶۳ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې او په پایله کې یې ۲۴۳ کورنۍ له ښاري بریښنا برخمنې شوې.





## په بغلان کې د کرونا د ویروس په اړه پوهاوی وشو

۱۳/ وری/ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت له لوري د بغلان ولایت د بغلان جدید ولسوالۍ د شورای بیګ زاد پاین او د پلخمري د قره خان پرمختیایي شوراګانو له خوا د کرونا- کووید ۱۹ ناروغۍ په اړه د عامه پوهاوي کمپاین تر سره شو.





## کندهار کې له ۲۵ اړو کورنیو سره څه باندې د ۱۳۰ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرستې وشوې

۱۳۹۹/ وری/۱۲

د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري له ۲۵ بيوزلو کورنيو سره څه باندې د ۱۳۰ زره افغانيو په ارزښت د کندهار ولايت د سپين بولدک ولسوالۍ د صاحب او پوټي ميرالزي کلي د پراختيايي شورا لخوا د خوراکي او غير خوراکي توکو مرستې وشوې. دغه مرستې د ولسي ترون د ټولنيز ګډون لپاره د مالي وجهي پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو ونډه هم پکې شامله وه، کليوالو ته ورکړل شوې چې غنم، وريجې، غوړي، اوړه، لوبيا، بوره، چاى او نخود پکې شامل وو.

## په خوست کې څه باندې د ۱.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د یوې شبکې د جوړولو کاربشپړ شو

۱۴/ وری/ ۱۳۹۹

د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام له لوري څه باندې د ۱.۵ ميليونه افغانيو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د يوې شبکې د جوړولو کار د خوست ولايت د ګربزو ولسوالۍ اړوند د ګلوک خيلو کلي د پراختيايي شورا لخوا بشپړ او ګټې اخيستنې ته وړاندې شوه. د څښاک د پاکو اوبو دغه شبکه ۱۳۰۰ متره اوږدوالی، د ۲۴ زره ليتره اوبو د زيرمه کولو ظرفيت او ۷ نلکې لري. د يادونې وړ ده چې د دغې پروژې د جوړيدو په بهير کې ځايي خلکو ته ۷۳۰ کاري ورځې رامنځته شوې اوله بشپړيدو وروسته ۱۳۰ کورنيو د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی پيدا کړ.



## هلمند کې د پراختیایي شوراګانو د غړو او کلیوالو په ګډون ۵۰ تنو ته د کرونا ویروس په هکله عامه پوهاوی ورکړل شو

۱۳۹۹ / وری / ۱۳

د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام په لارښوونه او د عامې روغتيا وزارت په مرسته د هلمند د نادعلي ولسوالۍ د حضرت زرغون او شمالي لوى باغ پراختيايي شوراګانوغړو او کليوالو ته د کرونا ويروس د خطرونو او له هغې څخه د ځان ساتنې او د ويروس د ليږد د مخنيوي د لارو چارو په هکله لازم پوهاوی ورکړل شو. د يادو شوراګانو غړو او خلکو لخوا د ولسي ترون ملي پرو ګرام له لوري د کرونا په اړه د عامه پوهاوي هر کلی وشو او ژمنه يې وکړه چې په خپله سميه کې به د کرونا ويروس د مخنيوي په هکله خپل مسووليت ادا کړي.





## د کندهار ولایت په سپین بولدک ولسوالۍ کې د کرونا ویروس په هکله عامه پوهاوی تر سره شو

۱۳۹۹ / وری / ۱۱

دکليودبيا رغونې او پراختيا وزارت دولسي ترون ملي پروګرام له لوري دکندهار ولايت د سپين بولدک ولسوالۍ اړوند په دوهم اتفاق مينې اود مولا داد کميسيون پراختيايي شوراګانو کې د کرونا ويروس په هکله عامه پوها وی ترسره شو چې دنوموړو شوراګانو د ۷۰ کورنيوغړو پکې ګډون در لود.



## په لغمان ولایت کې د کرونا ویروس د مخنیوي په موخه د پوهاوي کمپاین تر سره شو

۱۱/ وری/ ۱۳۹۹

د کلیو پراختیا او بیا رغونې وزارت د ولسي تړون پروګرام له لوري د لغمان ولایت د قرغیو ولسوالۍ په کوز دهمزنګ کلي کې د کرونا ویروس په اړه د پوهاوي کمپاین تر سره شو. دا کمپاین ددې لپاره تر سره شو چې په اړونده برخه کې د عامې روغتیا وزارت پیغامونه خلکو ته ورسوي، چې د سیمې خلکو یې تود هرکلی وکړ، او ژمنه یې وکړه چې د کرونا ویروس د خپریدو د مخنیوي او وقایې په برخه کې به ورکړل شوې لارښوونې عملي کوي.

## په ننګرهار کې له ۳۴ اړو کورنیو سره د ٦۸ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرستې وشوې

۱۳۹۹/ وری /۱۲

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري له ۳۴ اړو کورنیو سره د ٦۸ زره افغانیو په ارزښت د ننګرهار ولایت د خوږیانو ولسوالۍ اړوند د باندو کلي د پراختیایي شورا لخوا د خوراکي توکو مرستې وشوې. دغه مرستې د ولسي تړون د تولنیز ګډون لپاره د مالي وجهي پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته وړاندې شوې چې اوړه، غوړي، چای، دال او بوره، پکې شامل وو. د بې روزګارۍ او موسمي لوږې په موده کې د کلیو اړو کسانو ته د غله جاتو بانکونو له لارې مرسته، دشتمنو خلکولخوا د بې وزلو دلاسنیوي کلتور خپروي.



## په ننګرهار کې د ۴۹،۵ میلونه افغانیو په ارزښت د یوې پروژې هوکړه لیک لاسلیک شو

۱۳۹۹/ حمل/ ۱۲مه

د ننګرهار ولایت کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست او د کامې ولسوالۍ د قندهاریو کلي پرمختیایي شورا ترمنځ د څه د پاسه ۴۹ میلونه افغانیو په ارزښت د یوه سرک د کانکریت کولو هوکړه لیک لاسلیک شو.

د ننګرهار کلیو بیارغونې او پراختیا رییس انجینر امان الله میاخیل وویل دغه سرک د کلیو پراختیا وزارت د سیمه ییزې پراختیا پروګرام له بودیجې څخه ۴۹،۵۱۱،٦۸۱ افغانیو په لګښت په کانکریټي ډول جوړیږي چې د یادې سیمې په سلګونو کورنیو ته به ترانسپورټي اسانتیاوې برابرې کړي. دغه سرک د مراد علي لیسې څخه پیل او د کامې لسوالي پورې رسیږي.





## په لغمان کې څه باندې د ۷ ملیونه او ۱۰ زره افغانیو په ارزښت د یوه محافظوي دیوال د جوړولو کار روان دی

۱۳۹۹/ وری/ ۱۲

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د ۷ میلونه او ۱۰ زره افغانیو په لګښت د یوه محا فظوي دیوال د جوړولو کار د لغمان ولایت د قرغیو ولسوالۍ اړوند د دهمزنګ سفلی کلي پراختیایي شورا لخوا روان دی. دغه دیوال ۱۱۰ متره اوږودوالی لري. د نوموړې پروژې د بشپړیدو وروسته به د کلیوالو ۳۷۰ جریبه ځمکه د سیلا بونو له ګواښ نه خوندي شي.